SHTAMANAI

هغه پانگوال چي په خپل هیواد کي پانگونه کوي؛ د هیواد د ابادۍ او بیارغوني کي سربښندونکي اتلان دي او د ماليې وزارت له خوا ورته خاص سهولتونه ايجاديږي.

شنبه | ۱۳ رجب المرجب /۱٤٤٤ ۱۵ دلو ۱٤۰۱ | ٤ فبروری ۲۰۲۳ | سال اول | شماره ۳۷ | ٤ صفحه



## سرمقاله



### اقتصادي ځان بسیاینه

په یوه شاته پاتي هیواد کي اقتصادي خوځښت یا تحرک د اقتصادي ستراتېژۍ يوې بالقوه انرژۍ، مسلکي او تخصصي کدرونو، پیاوړي لیدلوري او اوږدمهاله اقتصادي پلان ته اړتیا لري، چي په تدریجي توگه د اقتصادي ځان بسیاینې لپاره لاره هواره کړي. که څه هم یو پیاوړی اقتصادي هیواد د خپلي اقتصادي ځان بسیاینې لپاره د اقتصادي سکتور د پیاوړتیا او غښتلتیا لپاره ټول اړخونه په پام کي نیسي، همدا شان د افغانستان اسلامي امارت لپاره هم اړینه ده، چي دغه هیواد له وارداتي هیواد څخه په صادراتي بدل کړي، کرنیز سکتور، خصوصي سکتور، د کانونو استخراج، روغتیایي سکتور، مالي سکتور او د عوایدو را ټولولو بهیر روڼ، ملي او معیاري کړي، ترڅو بالاخره یو شتمن، صادراتي، زراعتي د سیمي او نړۍ د هیوادونو د پانگوني، سوداگرۍ او وصل ټکی وگرځي. اسلامي امارت که څه هم د تېر یوه نیم کال په اوږدو کي د سیاسي نانډریو او بهرنیو ښکرورو له خوا د دوه اړخیزه تعامل د منزوي کولو او په گڼ شمېر فعالیتونو د کړۍ راتنگولو ترڅنگ له اقتصادي او مالي کړکیچن وضعیت سره لاس او گرېوان دئ، ولي همدې محدودیتونو یې په ځینو کورنیو اقتصادي چارو کي لاس خلاص کړی او ځیني اقدامونه د دې سبب گرځېدلي، چي د یوه پیاوړي اقتصادي او زراعتي افغانستان پر لوري کوټلي گامونه واخلي، د ملي بودیجې د ملاتړ لپاره پر نوو مالي سرچینو کار وکړي، ملي بودیجه له خپلو عوایدو بشپړه کړي، د لکونو ملکي او نظامي مامورینو معاشونه ورکړي، د کانونو استخراج ته مخه کړي، د اوبو مدیریت تر ډېره بریده را مهار کړي، د کرني پیاوړي کولو ته غوره تگلاره چمتو کړي، خصوصي سکتور ته اوږه ورکړي او پر دوی باندي د تېرو مالي جریمو د معافیت ترڅنگ اړتیا ته په کتو لنډمهاله اواوږدمهاله اسانتیاوي رامنځته کړي، د یو شمېر سترو گمرکونو کاري موده ۲۴ ساعته کړي، د مالیاتو نورم ټیټ کړي، په مرکز او ولایتونو کي مالیاتي باقیات را ټول کړي او د صنعتي فابریکو لپاره د خامو موادو او اوسپنو پر لېږد او قاچاق بندیز ولگوي. له دې ټولو سره د اقتصادي خپلواکۍ لپاره غوښنه برخه له فساد، بډو اخیستو او د عوایدو د تېښتي له مخنیوي سره کلکه اراده او مبارزه ده او دغه چاره د اسلامي نظام په هڅونو کي نغښتې ده. له اداري فساد سره مبارزې وکولای سول، چي د عوایدو د تېښتي مخه ونیسي، ملي عواید لوړ سي، په لکونو جریبه دولتي ځمکي د دولتي شرکتونو له لوري راوگرځي، له پښو لوېدلي دولتي شرکتونه بیا فعالیت پیل کړي او مهمه دا چي دولتي شرکتونو ته په یوه ځانگړي میکانیز ترجیح ورکړل سي، چي د هیواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره تر هر څه لومړیتوب لرونکی بنسټ دئ. اسلامي امارت کورنیو او بهرنیو سوداگرو او پانگوالو ته په گمرکونو کي د لازمو او اړینو اسانتیاوو رامنځته کولو او د سوداگرۍ پراختیا ته هم لومړیتوب ورکوي. دغه اسانتیاوي نه یوازي دا چي د هیواد په اقتصادي پیاوړتیا، د سوداگرو لېوالتیا او د یوه ځان بسیا افغانستان زېری دئ، بلکي په ډېر نږدې راتلونکي کي به افغانستان د گاونډیو، سیمي او نړیوالو هیوادونو د سوداگرۍ راکړي ورکړي او په ټوله کي د وصل په نقطه بدلوي، چي هم به له یادو هیوادونو سره کور او کلی یوو او هم د ذکر سوو هیوادونو په منځ کي انشاالله په یو نړیوال بازار بدل سو. ځکه چي د اسلامي امارت له راتگ را وروسته د سوداگرۍ کچه، د محمولو تگ راتگ او د سیمي له هیوادونو سره راکړه ورکړه په مقایسوي بڼه زیاته سوې ده.

**درنښت**

**اداره**

---

## د وطني غالیو صادرولو په تړاو د ماليې وزارت اعلامیه



په دې ورستیو کي ځینو رسنیو او بنسټونو داسي راپورونه خپاره کړي، چي گواکي د ۱.۱.۱ د وطني غالیو پر صادرولو بندیز لگولی دی. د ماليې وزارت دغه راپورونه بې بنسټه بولي او په کلکه يې ردوي.

د ۱.۱.۱ په ځانگړي ډول د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه د وطني غالیو په گډون د نورو کورنیو تولیداتو د صادراتو لپاره د تېر په پرتله گڼي اسانتیاوي برابري کړي او د گمرکي پړاوونو اسانه کولو ته يې لومړیتوب ورکړی.

همداشان وړۍ، چي د غالیو او نورو اوبدونکو توکو خام مواد چمتو کوي، نو پر همدې اساس د کورنیو تولیداتو د لا ودې په موخه يې پر صادرولو بندیز لگول سوی.

د ماليې وزارت له ټولو رسنیو څخه غوښتنه کوي، هغه راپورنه چي عامه ذهنیتونه مخشوشوي، له خپرولو يې ډډه وکړي.

---

## د ۱۴۰۱ منځني مالي کال بودیجه

د ماليې وزارت د ملي بودیجې لوی ریاست د مالي چارو او عامه لگښتونو قانون او د افغانستان اسلامي امارت د لوړ پوړو چارواکو په هدایت د ۱۴۰۱ منځني مالي کال بودیجې سند چمتو کړ، چي خوشبختانه د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لوري تائید او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان له مخې تصویب او منظور سو.

د روان کال په پیل کي ټوله ملي بودیجه ۲۳۱،۴ میلیارده افغانۍ اټکل سوې وه، چي له دې جملې څخه ۲۰۳ میلیارډه افغانۍ پراختیایي بودیجه او ۲۷.۹ میلیارده افغانۍ پراختیایي بودجه وه؛ خو د یو شمېر ادارو د اړتیاوو په نظر کي نیولو سره د نیمایي کال بودیجې له بیا کتني وروسته، د بودیجې ټوله کچه ۲۳۹ میلیارده افغانیو ته لوړه سوه.

همدارنگه د نیمایي کال بودیجې له بیا کتني وروسته، له کورنیو عوایدو څخه د ملي بودیجې تمویل ۱۹۸،۷ میلیارډه افغانیو ته رسېدلی، چي د اټکل سوي شمېرې په پرتله ۱۲ میلیارډه افغانۍ زیاتوالی ښيي او د بودیجې کسرهم د کال په پیل کي د سوي وړاندوینې په پرتله ۴.۳ میلیارډه افغانۍ کم سوی دئ.

د یادولو وړ ده چي د بودیجې عمومي ریاست هر کال د ملي بودجې د بیاکتني سند د مالي چارو او عامه لگښتونو قانون د ۴۲ مادې پر بنسټ تنظیموي. د منځني کال بودیجې د بیاکتنې موخه د هغو تعدیلاتو چمتو کول دي، چي د کابینې لخوا تصویب سوي وي. دغه ریاست د مالي کال په لړ کي د لومړیتوب لرونکو پروژو د لگښتونو د پوره کولو په موخه د منځني کال د بودیجې چمتو سوی سند د تصویب په موخه له کابینې سره شریکوي.

---

## پر صادراتي او وارداتي توکو د تعرفې ټاکل د ماليې وزارت صلاحیت دئ



په هر هیواد کي چي صادرات او واردات ترسره کېږي، پر سوداگریزو توکو باندي د دولت له لوري تعرفه ټاکل کیږي، چي بیا دغه ټاکل سوې تعرفه په بازار کي د توکو په بیه او کورني صنعت نیغ په نیغه اغېز کوي.

کله چي د تعرفې کمېټې له خوا تعرفه ټاکل کیږي، زیاتي پاملرني، محاسبې او د کورنیو او بهرنیو بازارونو ارزښت په پام کي نیول کېږي. مالیې وزارت هم د تعرفې ټاکلو لپاره لاندني ټول اصول او میکانیزمونه په ډېر دقت سره په پام کي نیولي دي:

لومړی: د گمرکونو عمومي ریاست کي د تعرفې ریاست د صادراتي او وارداتي توکو بیه تحلیلوي، کورني تولید، له هیواد بهر او دننه په بازارونو کي غوښتني او وړاندي کول (عرضې) څېړي.

دوهم: څېړونکې ډله بیا د څېړنو پایلي د تعرفې کمېټې ته وړاندي کوي، چي د تعرفې وروستی نرخ وټاکي. د تعرفې د کمېټې مشري د ماليې وزارت د عوایدو او گمرکونو مرستیال پر غاړه لري، چي د صنعت او سوداگرۍ، اقتصاد، کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ او د کانونو او پطرولیم وزارتونو مرستیالان او د افغانستان د سوداگرۍ او صنایع خونې رئیسان د کمېټې غړیتوب لري.

له تائید وروسته د تعرفې بیه د منظورۍ په موخه د ماليې وزیر ته وړاندیز کیږي، د ماليې وزیر له منظورۍ سره سم ټاکل سوې قیمت په سیستم کي ځای پر ځای کیږي، چي هم مهاله په ټولو گمرکونو کي د پلي کېدو وړ وي.

د یادوني وړ ده، چي د تعرفې کمېټې د کړنو راپور په کال کي دوه ځله (د لومړیو او دویمو شپږو میاشتو) د ارزوني په موخه اقتصادي کمیسیون ته وړاندي کیږي.

---

## منسوبین گمرک تورخم از قاچاق سنگ های قیمتی جلوگیری نمودند

منسوبین گمرک تورخم شام گذشته هنگام تلاشی یک موتر باربری ۷۸ کیلوگرام انواع مختلف از سنگ های قیمتی که با مهارت خاص جاسازی گردیده بود، کشف و ضبط نمودند.

ریاست عمومی گمرکات به تمام گمرکات ولایتی هدایت داده است تا بر جلوگیری قاچاق و واردات و صادرات اموال ممنوعه نظارت جدی داشته باشند که

در این عرصه گمرکات مذکور دستآورد های قابل ملاحظه نیز دارند



---




**د کرنیزي پرمختیا صندوق د اسلامي مالي تمویل محصولاتو پرانیست ناسته کي د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري وینا**

م ۲



**د فاریاب مستوفیت عواید دوه دېرش سلنه زیات سوي**

م ۳



**د گمرکونو لوی رئیس د ننگرهار گمرک د چارو ارزوني په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ**

م ۲



**پلټوونکی «مفتش» څوک دی؟!**

م ٤



**د ولایتي عوایدو د همغږۍ او پراختیا رئیس ننگرهار ولایت ته سفر وکړ**

م ۲

شتمنۍ
SHTAMANAI



## د کرنیزي پرمختیا صندوق د اسلامي مالي تمویل محصولاتو پرانیست ناسته کي د مالیې د وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري وینا

د ریاست الوزراء جلالتماب مرستیال، د کابینې معززو غړو، بهرنیو ښاغلو مېلمنو او ډیپلوماټانو، د نړیوالو موسساتو ښاغلو همکارانو، کورنیو او بهرنیو مېلمنو او د رسنیو محترمو استازو!

السلام اعلیکم ورحتمه الله و برکاته!

نن موږ او تاسو د زراعتي پرمختیا صندوق د اسلامي مالي ملاتړ محصولاتو ناستي د افتتاح شاهدان یوو، چي هیوادوالو ته به د مرابحې او وکالې محصولات وړاندي کوي، دا د افغانستان زراعتي سکتور د پرمختیا، تقویت او پراختیا پر لوری یو مثبت گام دئ.



ډېرو قدرمنو حاضرینو: نړۍ او افغانانو ته بهتره معلومه ده، چي موږ د هر ډول بهرنۍ مرستي پرته د اقتصادي ځآن بسیاینې لپاره شپه او ورځ کار کوو. د هیواد د نورو مهمو مسایلو ترځنګ مو زراعت هم په لومړیتوب کي دئ، چي زموږ او تاسو د نن ناسته، د هیواد په شمال زون کي د قوش تېپې ستر کانال او له کروندګرو سره وخت نا وخته مرستي د زراعت برخي پرمختګ ته زموږ یوه ځآنګړې پاملرنه ښکاره کوي.

خو له بده مرغه په افغانستان کي اوسنۍ مالي ستونزي، د نړیوالو له خوا د بانکي سیستم مختل کېدل، د هیواد د شتمنۍ کنګل کېدل او د لازمو مرستو کمښت زموږ خصوصي سکټور، مالي سکټور، بانکي راکړه ورکړه او نوري اقتصادي اړیکي سختي ننګولي دي او په دې برخه کي افغانانو ته باید د ملامتۍ ګوته هم ونه نیول سي. له دې ټولو ناخوالو او ستونزو سره اوسني نظام په ځانګړي توګه ماليې وزارت خصوصي سکټور، سوداګرو، صنعت کارانو او مرستندویه بنسټونو ته لازمي او معیاري اسانتیاوي برابري کړي، تېري مالیاتي جریمې ور معاف کړي، د زراعتي محصولاتو پر صادراتو باندي مو ګمرکي تعرفه صفر کړې دي چي دا ټوله زموږ د مالي وضعیت د ښه کېدو خواته مثبت ګامونه دي.

ماليې وزارت ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو او سوداګرو ته بلنه ورکوي، چي د زراعت په برخه کي دي پراخه پانګونه وکړئ، ځکه افغانستان له هر راز زراعتي محصولاتو، طبي بټو او مېوو څخه برخمن دی. په دې سره به زموږ هیوادوالو ته کار هم پیدا سي او د زراعت په برخه کي به ځان بسیاینې ته هم ورسېږو.

په پای کي د دغه صندوق ټولو همکارانو او ګډونوالو ته د ښتن تعالی له درباره په چارو کي بریا او توفیق غواړم.

**له پاملرنې مو مننه!**

## د ولایتي عوایدو د همغږۍ او پراختیا رئیس ننګرهار ولایت ته سفر وکړ



د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست د ولایتي عوایدو د همغږۍ او پراختیا رئیس حافظ شاه حسین حسیني، ننګرهار ولایت ته د عوایدي پلان د تحصیل په موخه سفر وکړ.

نوموړي د ننګرهار ولایت د مستوفیت له مسؤلینو او کارکوونکو سره د لیدني ترڅنګ د ننګرهار مستوفي مولوي محمد فاروق انصاري پشه یي د مستوفیت د اداري چارو د کړنو او عوایدو راپور هم واورېده. ښاغلي انصاري پشه يي په خپلو خبرو کي وویل، چي موږ د کارونو د ښه والي او چټکوالي په موخه په ټولو برخو کي جدي کار کوو، تر څو ټاکل سوي اهداف پر خپل وخت تر لاسه کړو.

ښاغلي حافظ شاه حسین حسیني، د ټولو کارکوونکو له کړنو د منني ترڅنګ وویل، چي د عوایدو را ټولول د نظام د مستحکمولو لپاره یوه اړینه ملي پروسه ده چي د ماليې وزارت کارکوونکي يې پر مخ وړي، په همدې اساس د ننګرهار مستوفیت د مالیاتي او غیرمالیاتي عوایدو د تحصیل لړۍ چي د مالي کال آخره ربعه ده، باید چټکه کړي، تر څو ننګرهار مستوفیت ته ورکړل سوی پلان بشپړ سي. نوموړي د دغه مستوفیت کارکوونکو ته راتلونکي کي د چارو د لا ښه والي په موخه اړیني لارښووني وکړې.

په پام کي ده، چي د ولایتي عوایدو د همغږۍ او پراختیا رئیس د ولایتي مالیاتي ادارو (مستوفیتونو) د چارو د څارني او ارزوني په موخه نورو ولایتونو ته هم سفرونه وکړي.

## د ګمرکونو لوی رئیس د ننګرهار ګمرک د چارو ارزوني په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ



دګمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید نن د یو تخنیکي پلاوي په مشرۍ ننګرهار ولایت ته رسمي سفر وکړ.

یاد پلاوی به د ننګرهار ګمرک د اداري چارو د وضعیت ارزونه وکړي او تر څنګ به يې د یاد ولایت له یو شمېر سیمه ایزو چارواکو او سوداګرو سره هم وګوري.

## د عوایدو لوی ریاست او د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مسؤلینو ترمنځ ناسته وسوه

دغه ناسته چي د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال ښاغلي معراج محمد معراج په مشرۍ او د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مرکزي ثبت او فکري مالکیتونو لوی رئیس ښاغلي محمد زبیر دین پرور هم په کښي ګډون درلود، دواړو لوریو د مخکینیو کړنو په پرلپسېوالي او په برېښنايي ډول د مالیاتي مکلفیتونو د تصفیې لکه د (RMIS) سیستم او د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مرکزي ثبت او فکري مالکیتونو لوی ریاست د جوازونو د بیل د صدور سیستم د نښلوني (Integration) او د معلوماتو د تصفیې (Data Cleanup) په تړاو بحثونه وکړل.

د دغي کړني د پلي کولو او ترسره کولو موخه دا ده، چي په هیواد کي د متشبثینو د فعالیت د جوازونو کیفیت معیاري او لوړ سي.

## کشف و ضبط اموال مشکوک در گمرک ننگرهار

کارمندان بخش تشریح گمرک ننگرهار در نتیجه تلاشی یک موتر باربری، ۹ قلم اموال مشکوک را که در دو کارتن جاسازی شده بود و از کشور پاکستان به افغانستان وارد می گردید، کشف و ضبط نمودند.

این اقلام شامل (۲۴ بسته پتاقی، ۲۵ عدد اره، ۵ عدد لین، ۱۹ عدد تخته، ۱۰ عدد WALON برقی، ۴ عدد دستگاه VFD-M، ۵ عدد داینمو و ۲۴ بسته پتره های لیندار می باشد که از مواد مذکور در انفجارها و سایر موارد تخریبی استفاده می گردد.

به این اتهام دو تن دستگیر گردیده و برای تحقیقات بیشتر به نهاد های امنیتی سپرده شده اند.

همچنان روز گذشته حدود ۳۵۰ کارتن (Tea Whitener) که به نام شیر در بازار به فروش می رسد و واردات آن به کشور ممنوع می باشد، توسط کارمندان گمرک ننگرهار کشف و ضبط گردیده است.

## ورکشاپ آموزشی از سوی وزارت مالیه به آمرین مالی مستوفیت ها برگزار گردید



به منظور تداوم و حفظ یک اداره سالم، وزارت مالیه برنامه های ظرفیت سازی را برای کارمندان در بخش های مختلف راه اندازی کرده است که این بار ریاست عمومی خزاین و ریاست منابع بشری وزارت مالیه مشترکاً ورکشاپ آموزشی ۱۰ روزه را برای آمرین مالی مستوفیت ها برگزار نمود.

در این ورکشاپ آموزشی، توسط تریننران مجرب مهمترین مسائل مالی مانند تخصیصات، هزینه ها، حواله جات، تادیات قطعه، تامینات، ضمانت ها، تطبیقات بانکی و سیستم معلومات اداره مالی افغانستان یا افمس به گونه آنلاین به اشتراک کنندگان آموزش داده شد.

پس از پایان این ورکشاپ آموزشی ۱۰ روزه، از آمرین مالی مستوفیت ها در بخش های مربوطه مالی امتحان اخذ میگردد تا ظرفیت مسئولین در بخش های مالی مورد ارزیابی قرار گیرد و در آینده زمینه بهتر برای برنامه های مهم ظرفیت سازی و استخدام آمرین مالی مسلکی فراهم گردد.

شتمني
SHTAMANAI

# دست آوردها و فعالیت های ریاست عمومی سرمایه گذاری عامه و زیربناء



ریاست عمومی سرمایه گذاری عامه و زیربناء، در چوکات معینیت پالیسی وزارت مالیه در دو بخش مصروف فعالیت است؛ بخش ارزیابی، تحلیل اقتصادی، مالی و اولویت بندی پروژه های انکشافی و بخش شریک سازی پروژه های زیربنائی. در بخش ارزیابی پروژه های انکشافی، این ریاست، پروژه های انکشافی واحد های بودجوی را به منظور شامل سازی در سند بودجه ملی دریافت کرده در قدم نخست، بخاطر محدود بودن بودیجه انکشافی امارت اسلامی افغانستان، پروژه های متذکره را با برنامه های که از طریق ملل متحد و سایر تمویل کنندگان تطبیق می گردد مقایسه نموده در صورت تطبیق چنین پروژه ها در ساحات مشخص توسط ملل متحد و سایر نهاد ها تطبیق و یا در حال اجرا باشد، از تکرار آن بخاطر ازدیاد چانس تمویل سایر پروژه ها در ساحات مختلف جلوگیری نموده و از سوی دیگر تیم کارشناسان مجرب این ریاست پروژه های یاد شده را مورد ارزیابی، تحلیل مؤثریت مصارف و اولویت بندی قرار داده بدین ترتیب از میان صد ها پروژه، پروژه های مؤثر، مثمر و مؤجه اقتصادی که کشور را به سوی خودکفایی سوق دهد، شناسایی و شامل سند بودجه ملی می گردد. ریاست عمومی سرمایه گذاری عامه برای سال مالی ۱۴۰۰ حدود ۴۳۲ پروژه از واحد های بودجوی دریافت و بعد از ارزیابی و تحلیل های انجام شده، صرف ۸۴ پروژه منحیث پروژه های قابل اجرا را شناسایی کرد.

در بخش شریک سازی زیربناها، ریاست متذکره پلان های پروژه های ادارات مربوط سکتور زیربناء را دریافت و با در نظرداشت معیارات مشخص، توسط تیم کارشناسان متخصص و با تجربه خویش مورد ارزیابی قرار میدهد تا پروژه های هم مسیر را شناسائی نمایند. هرگاه پروژه در مرحله مقدماتی منحیث پروژه های هم مسیر شناسایی گردید آن را با ادارات مربوطه شریک می سازند تا از تطبیق پروژه انفرادی آن جلوگیری گردد. پروژه های انفرادی هم مسیر با پلان تطبیقی پروژه های شریک سازی مدغم و منیحث یک پروژه واحد دیزاین و تطبیق می گردد. مزیت شریک سازی پروژه ها در مرحله دیزاین این است تا به جای تطبیق یک پروژه، چانس تطبیق چندین پروژه مساعد گردیده و از کندنکاری و دوباره کاری جلوگیری بعمل می آید و صرفه جوئی هنگفت صورت می گیرد که در این راستا ریاست عمومی سرمایه گذاری عامه و زیربناء طی سال مالی ۱۴۰۰ مبلغ ۲٦.۳ میلیون دالر را از بابت شریک سازی زیربناها، توانست صرفه جوئی نماید. روند شریک سازی زیربناها طوری است که هرگاه اعمار یک سرك در پلان می باشد، پلان متذکره با ادارات که در بخش تمدید شبکات آبرسانی، برق، مخابرات (فایبر نوری) مصروف اند شریک می گردد، تا در مسیر متذکره مشخصات تخنیکی پروژه های ذکر شده با اداره اعمار کننده سرك از طریق ریاست عمومی سرمایه گذاری عامه و زیربناء، شریک گردد تا بدین ترتیب حین اعمار سرك، دکت ها، هندهول ها و منهولها برای پروژه های فایبر نوری، مخابرات، آبرسانی و سایر بخش ها در نظر گرفته شود که در اثر انجام چنین هماهنگی، با تطبیق یك پروژه، زمینه تطبیق چندین پروژه مساعد می شود که از یك طرف از کندنکاری و دوباره کاری جلوگیری بعمل می آید و از جانب دیگر از مصرف مبلغ هنگفت وجوهی مالی جلوگیری شده و صرفه جوئی می شود.

## د فاریاب مستوفیت عواید دوه دېرش سلنه زیات سوي



د افغانستان اسلامي امارت له فتحې وروسته د فارياب ولايت په ټولو ولسواليو او مرکز کي بشپړ امنيت ټينګ سو، چي په پايله کي يې د اشخاصو له ګډوډۍ پرته مالياتي او غير مالياتي عوايد په سمه توګه تثبيت سول. د افغانستان بانك له پروسيجر سره سم د ماليه ورکونکو له لاري عوايد په فزيکي او راتله ډول د دولت واحد حساب ته سپارل کيږي او د ماليه ورکوونکو د هڅوني په موخه په ځينو مالياتي ځانګو کي ماليه ورکوونکي د جريمې له ورکړې معاف سوي دي او په ځانګړې توګه د اصنافو د ماليې برخه په ۱۴۰۱ کي د فيصدۍ په تخفيف سره جريان لري، چي ماليه ورکوونکي له دغه تخفيف څخه راضي او د ماليې ورکړې ته لېواله دي. دغه مستوفيت د تحصيل د محترمو پلټونکو د هدايت سره سم د اداراتو د ارزښت لرونکو اسنادو له درکه (۱۵۰۰۰۰۰) افغانۍ د دولت وارداتو ته سپارلي دي. د اسلامي امارت له واکمنېدو وړاندي په ۱۴۰۰ل کال کي شاوخوا (۱۷۳۲۸۵۵۲۵) افغانۍ عوايد راټول سوي وو؛ خو لله الحمد د اسلامي امارت له واکمنېدو را وروسته د ۱۴۰۰ل کال حوت مياشتې تر وروستيو (۲۲۸۹۹۵۲٦۹) افغانۍ عوايد را ټول او دولت ته سپارل سوي. دغه مستوفيت ۳۴۷۳ اصناف تثبيت کړي او همدا راز د تېر کال په پرتله يې د عوايدو توپير (۵۵۷۰۹۷۷۱) افغانۍ ګڼل کېږي، چي (۳۲٪) زياتوالی ښيي. په همدې ترتيب د فارياب ولايت د مستوفيت عوايد په ورځني ډول ۱ميليون او ۵۰۰ زره افغانۍ او په کلني ډول (٦۵۰) ميليونه افغانۍ راټولېږي. دغه مستوفيت همدارنګه له (افمس، سيکتاس، آر ام آي اس او آرشيف) سيسټمونو څخه کار اخلي. د فارياب ولايت مستوفيت د هغي ژمني له مخي چي له اسلامي امارت سره يې کړې ده، د ملي عوايدو په راټولو کي به وروستۍ هڅي کوي او د هېواد ځانبسياينې ته به د زړه له تله کار کوي.

# اعلانات داوطلبی

### به اعلان سپردن یکباب تانک تیل ریاست عمومی املاك دولتی

وزارت مالیه یکباب تانك تیل بمساحت ۱۲۰۰ متر مربع واقع زنده بانان ناحیه ۱٦ ولایت کابل را به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند در خواستی های شان را بعد از نشر الی (۲۱) روز به ریاست عمومی املاك دولتی واقع تعمیر (۱٤) منزله سینما پامیر منزل چهارم تلسیم نموده، همچنان شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند

### به اعلان سپردن موازی ۵۳٦۰,۱۷ متر مربع دارای سه باب هنگر

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی ۵۳٦۰,۱۷ متر مربع دارای سه باب هناگر واقع داخل محوطه نساجی بگرامی ناحیه ۱٦ ولایت کابل را به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند در خواستی های شان را سر از تاریخ ۵ دلو الی (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر (۱٤) منزله سینما پامیر منزل چهارم تلسیم نموده، همچنان شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

### د مکروریانونو د یو شمېر دکانونو په داوطلبۍ کي د ګډون خبرتیا!

د مکروريانونو د ساتنې او پالنې دولتي شرکت په شرايطو برابر له ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، ترڅو د لاندنيو کرايي دکانونو او جايدادونو درې کلن قرارداد د داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي.

۱. درېيم مکروريانو ازادي مطبعه سيمه کي د ۹۵,٤۲متره مربع مساحت په لرلو سره د D-۱۲۸ دکان؛
۲. درېيم مکروريانو ازادي مطبعه سيمه کي د ٦۰ متره مربع مساحت په لرلو سره د D-۱۲۹ دکان؛
۳. درېيم مکروريانو ازادي مطبعه سيمه کي د ۱۰۳,۰۸ متره مربع مساحت په لرلو سره د D-۱۳۰ دکان؛
۴. درېيم مکروريانو ازادي مطبعه سيمه کي د ۸۹,۳۹ متره مربع مساحت په لرلو سره د D-۱۳۱دکان؛
۵. درېيم مکروريانو ازادي مطبعه سيمه کي د ٦٤,۱۸ متره مربع مساحت په لرلو سره د D-۱۳٤ دکان؛
٦. درېيم مکروريانو ازادي مطبعه سيمه کي د ۷۹,۳ متره مربع مساحت په لرلو سره د D-۱۳٦ دکان؛

سوداګريز شرکتونه او حقيقي کسان چې د افرګشايي په ناسته کې د ګډون لېوالتيا لري، د غوښتنې وروسته دي شرط پاڼه د تهيې او تدارکاتو له مديريت څخه د ۳۰۰۰ افغانيو په بدل کي ترلاسه کړي او په شرط پاڼې کې له درج شويو شرايطو او د تدارکاتو طرزالعمل او قانون سره سم دي په سر بسته توګه د اعلان له خپراوي ۲۱ ورځې وروسته په ناسته کې د افرګشايي په موخه ۹:۳۰ دقيقې د ګډون لپاره د مکروريانو د ساتنې او مراقبت دولتي شرکت ته وړاندې کړي، د شرط پاڼې له اصولو سره سم د درېو مياشتو کرايه نقدآ په ناسته کې اخيستل کيږي.

**د امتیاز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:** ندا محمد صدیقي، مولوي عبدالرازق متقي، ابراهیم ګران او اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري
**ویبپاڼه:** mof.gov.a
**ټویټر :** afghanistanmof@
**یوټیوب:** afghanistan mof
**شمېره :** ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# پلټوونکی «مفتش» څوک دی؟!

لیکوال: محمد اکبر رغون

د هڅونې په پار څو کرښې زیارکښو او خواریکښو پلټوونکو ته کاږم، هیله ده چې د زړه په ژبه یې ولولئ!
پلټوونکی هغه څوك دی چې فلج شوي او په ټپه ولاړې ادارې په حرکت راولي او مړ شوي اسکلیټ ته یې روح پف کوي.
پلټونکی هغه معمار دی، چې د یوې ادارې رنګ شوی بنیاد او اساس په ښه شکل رغوي.
پلټونکی د هغه طبیب مثال لري، چې د ناروغ ناروغۍ په سم ډول تشخیص کوي، ناروغانو ته د تداوي ترڅنګ ښه دوا، وقایه او نیکې مشورې ور کوي او هغه ناروغۍ چې د بدن عضوه یې زیانمن کړي وي او نور علاج یې نه وي د طبابت په چاړه غوڅوي او ایسته یې غورځوي.
پلټونکی د هغې ثابت سترګې مثال لري، چې هر څه د حقیقت په اړانه کې ویني او په اړه لازم اجراآت کوي.
پلټونکی د هغې پاکې هندارې مثال لري، چې ډیری افراد په کې خپل ځان ویني.
پلټونکی د حق هغه رسا غږ دی، چې تل حقایقو ته انعکاس ور کوي.
پلټونکی هغه قیمتي زیور دی، چې تر اوسه یې قیمت نه دی ټاکل شوی او هر څوك یې په ارزانه بیه نه شي اخیستلی.
پلټونکی هغه عادل قاضي دی، چې تل عادلانه پرېکړې کوي. تل ځان بې پرې ګڼې او په هغو پریکړو کې، چې دی یې کوي د هیچا پلوي او پروا نه کوي.
پلټونکی هغه تاوانا مهندس دی، چې د یوې ادارې لپاره د رغون، سمون او بدلون نقشې طرحه کوي.



پلټونکی هغه ښه وال «باغوان» دی چې په هر ځای کې رنګ-رنګ زینتي بوټي او نیالګي کینښنوي، ترڅو ګټه یې محیط او خلکو ته ورسي.
پلټونکی هغه جرار جورنالیست دی، چې له لوړ رتبه او ټیټه رتبه افرادو سره په میړانه جر و بحث کوي، تر هغه چې د یوې سوژې «موضوع» تل ته ځان ورسوي.
پلټونکی هغه ستر ادیب او لیکوال دی، چې خپل ګزارش په ساده، ښکلو او راښکوونکو کلیماتو او الفاظو سره اماده کوي او اصلي مرجع ته یې رسوي.
پلټونکی هغه توند سیلاب دی چې په خپلو تیزو څپو سره خس و خشاك، خنډونه او مخ ته پراته بندونه نړوي او ځان هدف ته رسوي.
پلټونکی هغه سربښندونکی سیار عسکر دی، چې په هر ډول شرایطو کې د عملیاتو لپاره چمتو وي او همیشه د امیر امر ته د انتظار شېبې شماري.
پلټونکی هغه ذهین او لایقه شخص دی، د یوې موضوع په تحلیل او تجزیه یې عقل عمق ته رسي.
پلټونکی هغه بارز ښوونکی دی، چې خپلو شاګردانو ته په مینه او خورا لوړ مهارت سره درس ور کوي، او ټول کړه-وړه یې زده کوونکو ته درس وي.
پلټونکی د یوې ادارې لپاره هغه الګو ده، چې کارمندان یې له شخصیت، برخورد، ګفتار اوکردار څخه متاثره کیږي او تقلید ترې کوي.
پلټونکی هغه ماډرن مایکروسکوپ دی، چې میکروبونه لومړی دقیق ویني، بیا یې د علاج او خنثی کولو لپاره قوي انټي بویټیك فورمولې جوړوي.
پلټونکی د هغه څراغ په څېر دی چې خپل ځان سیځي؛ خو نورو ته رڼا ور کوي.
پلټونکی هغه تندر دی، چې د خاین او مفسد پر سر پریوځي او دړې وړې یې کوي.
پلټونکی هغه ژوندی انسان دی، چې په ظاهر ژوندي ؛ خو په باطن کې مړو انسانانو احساس، عاطفه، هیلې او فکرونه ژوندي کوي.
پلټونکی هغه څوك دی، په هر ځای ور سم شي، هلته تالاندې، برښنا او زلزلې جوړوي، غوڅ تحول او انقلاب راولي.
فلهذا پلټوونکی «مفتش» هر څه دی او په هر قالب کې جوړ راځي، خو دا چې ځان وپېژني او په خپل عظمت پوه شي. دا څو کرښې مې خاص هغو با درده او با احساسه مفتیشنو سره د خورا زیاتې مینې په پار وکاږلې، چې ټول وخت د یوې ادارې د بهبود او اصلاحاتو لپاره زیار کاږي. په دې هیله چې تاسو سره مې د خپلې مینې یوه اندازه حق اداء کړی وي.
ستاسو ټولو دې ډوډۍ ګرمه او اوبه یخې وي، په چارو کې درته بریا غواړم، د عزت او وقار توغ مو تل رپاند اوسه.


## The press release from the Ministry of Finance regarding the most recent World Bank report

The Islamic Emirate of Afghanistan›s Ministry of Finance welcomes all positive comments about Afghanistan›s economic situation in the World Bank report. The ministry›s economic achievements, on the other hand, are much higher, and it wishes to maintain interactions in this area. According to the World Bank report, the nation›s national revenues and exports have increased significantly compared to the past, government employees› salaries are paid on time, the cost of food and oil has decreased, and the value of the Afghani against foreign currency has remained stable, implying that the year 2022 was a positive year for Afghanistan›s economic situation. As a result of the Ministry of Finance establishing complete transparency in all relevant financial areas, revenues are collected digitally through the banking system, and necessary facilities for national and foreign traders, as well as other facilities, have been created. According to reality, the World Bank has presented a clear picture of Afghanistan›s economic situation. As a result, we strongly urge the international community to maintain positive economic ties with Afghanistan and work to promote economic growth opportunities rather than imposing restrictions in this area in order to reduce unemployment and strengthen our economy, allowing us to eventually achieve economic self-sufficiency through good facility management.

## The Revenue of Faryab Mostofiat Increased by Thirty Two Percent




After the Islamic Emirate of Afghanistan›s conquest, there is complete security in every district and the province›s center, which allows the tax and non-tax revenues to be appropriately fixed, without disturbance of anybody, collected in a transparent manner and are physically delivered to a single account in the Da Afghanistan Bank in accordance with instruction and regulation. And in order to encourage the taxpayers, some of them are waived to pay their tax penalties and there is a tax discount especially tax guilds with a percentage in FY- 1401 who are satisfied with and demonstrated their compliance by fulfilling their financial obligations. This Mostofiat has collected (1,500,000) Afghanis from the respected departments for security documents under the guidance of the inspectors and auditors and handed over to the government treasury. From the total revenues collected in FY-1400, (173285525) Afghanis was before the triumph of Islamic Emirate of Afghanistan and thank God from the time of I.E.A till end of the FY-1400 (228995269) Afghanis has been collected and deposited to Da Afghanistan Bank. Additionally the difference in revenue compared to the last year is (55709771) Afghanis that indicates (32%) increase. This Mastofiat has recognized 3473 guilds and similar to this the revenues of Faryab Mosofiat is one million five hundred thousand Afghanis per day, and about (650) million Afghanis annually. It uses from SIGTAS, AFMIS, RMI and Archive). According to the agreement it has with the Islamic Emirate, Faryab Mostofiat has been diligently collecting national revenue and is striving toward the country's financial self-reliance.



**Inamullah Samangani**

افغانستان پسا دو دوره‌ی اشغال و یک جنگ وحشتناك داخلی، یقینا نیازمند همکاری‌های همسایه‌هاست. اما واقعیت تاریخی و اساسی اینست که در منطقه‌ی ما هیچ کشوری به کمك همسایه‌ها به پای خود ایستاده نشده. اینجا باید خود کمر همت بندی و به تلاش‌های خود به پاهای خود ایستاده شوی!!

**Khairullah Shinwari**

خبر دا دی چې ازبکستان وایي په راتلونکو دوو ورځو کې به دبرېښنا ستونزه حل او دافغانستان برېښنا بیرته وصل کړو. دا باید مونږ افغانانو ته یو لوی سبق وي چې پردی کټ تر نیمو شپو دی،افغانستان د برېښنا د تولید مختلف منابع لري، تر ټولو مؤثر یې د ذغالو پلانټونه دي چې خودکفائي ته مو رسوی شي.

**سمیع الله درانی**

اقتصادي پرمختګ د یوې ټولنې اوسېدونکو په ژوند کې هوساینه او د تولیدي برخې ډېروالې دی، په حقیقت کې اقتصادي وده د اقتصادي پرمختګ لپاره د لارې خلاصولو په مانا ده او هر اقتصادي پرمختګ کولای سي؛ اقتصادي وده له ځان سره ولري؛ هر اقتصادي وده نه شي کولای اقتصادي پرمختګ ولري

**ذبیح الله مجاهد**

په اقتصادي برخه کې هره ورځ د آبادۍ خبرونه د دې ګواهي ورکوي چې هیواد مو مخ پر وړاندې روان دی. ان شآءالله

**Bilal Karimi**

مصنوعي او کاذب اقتصاد زمو درد نه شي دواکولای.
د اسلامي امارت ټوله هڅه داده، چې واقعي او رینښتنی اقتصاد را منځته شي.
دغه راز زیربناوي احیا شي، و رغول شي او د هر اړخیزو اړتیاوو له پاره داخلي سرچینې را ژوندۍ او تقویه شي.
پر غیر مطمئینو پایو ولاړ #اقتصاد د هیواد ستونزې نشي حل کولای.

د شتمنی اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.